مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۶/۱۰

# د هرات پاښون يوازي مه پرېږدی

نیکــه ویــلـه کــور د افـغـان دی
ناموس ايمان دی سر تر قربان دی
غـیـرتـپـردی ســو د افـغــانـ(و
چې پر ناموس يې تېری روان دی

د ټولني داسي برخه پاته نه سوه چي په هغي کي د طالبانو وحشت څرګند سوی نه وي. کله چي يې د نجونو د ښونځيو پر بندولو باندي د افغانستان نارينه قشر عکس العمل ښکاره نه کړ نو کرار کرار يې د خپلو مخالفينو په بندي کولو او وژلو پيل وکړ. تر اوسه پوري يې څه باندي پنځه سوه تنه بېل بېل قتل کړي او هر ځل يې قتلونه پر ناپېژاندو وسله والو تاوان کړي دي. او له تقريباً يوې مياشتي راهيسي يې د هغو ښځو په نيولو او بنديانولو پيل کړی دی چي د شريعت د احکامو سره سم يې مخونه او حتی ټول وجود پټ کړی وو.
دوو دريو تنو ړيړورو، د اسلاميت، افغانيت او ناموس د ټولو اصولو په خلاف، د کابل په عام بازار کي پر يوې پتمني افغاني باندي حمله وکړه. هغه يې پوري وهله او کله چي يې يوه زلمي د ژغورني لپاره ور و دانګل نو د طالبانو د امر بالمعروف يوې ښځينه غړي حمله وباندي وکړه. دا ويډيو ښايي ټولو افغانانو په فېسبوک کي کتلي وي.
د طالبانو د بي ناموسی د دې پيښي په مقابل کي هم چا چنداني عکس العمل ښکاره نه کړ. د عکس العمل نه ښودلو هغوی نور هم زړه ورکړل او په کندهار کي يې د ښېږ حجاب درلودونکي څو ښځي، پرته له هيڅ دليله، په عام بازار کي ونيولي او توقيف ته يې انتقال کړي. البته د کندهار خلکو تقريباً هيڅ عکس العمل ونه ښود او دې کار طالبان نور هم زړه ورکړل او په هرات کي يې پر ښځو باندي حمله وکړه. د هرات عام وګړي د خپل ناموس څخه د دفاع لپاره بازارونو ته را ووتل او طالبانو پر هغوی باندي ګولۍ وچلولي. يو لس کلن هلک او يوه ښځه يې شهيده کړه او د زخميانو درک څکه معلوم نه دی چي اکثر زخميان د بندي کېدلو له وېري خپلو کورونو ته تللي دي.
طالب واکمنان دا ټولي خبري دروغ بولي او طرفداران او تنخوا خواره يې تبليغ کوي چي دا ټولي ويډيوګاني او تصويرونه د اې آی کار دی او هيڅ واقعيت نه لري. څو خبره اوس د ملګرو ملتونو ادارو ته رسېدلي ده او د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو موسسي څو ويلي دي چي طالبان پر نيول سويو ښځو باندي جنسي تېري کوي او حتی پی مخي هلکان هم له دې تېري څخه په امان کي نه دي.
طالبانو ته پر معصومو افغانانو باندي د جنسي تېري کولو شرعي پلمه د هغوی مشر ملا هبت الله برابره کړي ده. هغه څو ورځي مخکي اعلان وکړ چي د ټولو هغو کسانو مرګ د اسلام څخه مخکي د جاهليت د زماني د کفارو په څېر دی چي ده ته يې بيعت نه وي کړی. طالبان په دې پوهيږي چي د افغانستان تام اکثريت اوسېدونکي د هغوی له حاکميت سره مخالف دي او ملا هبت الله ته يې بيعت نه دی کړی. په دې حساب نو، د طالبانو په نزد، هغوی ټول کفار دي او د کفارو پر ښځو او نرو باندي هر ډول تېری کول روا کار دی.
دوې ورځي کيږي چي طالبانو، د هبت الله له هدايت سره سم، خپلو ټولو ملکي او نظامي مامورينو، د پوهنتونونو استادانو او معلمينو ته امر کړی دی چي خپل موبايلونه، يا مات او يا روغ، اړونده ادارو ته تسليم کړي. ملاهبت الله امر کړی دی چي که څوک خپل موبايلونه تسليم نه کړي نو له وظيفو څخه به يې منفک کړي. دا مو بايد په ياد وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

چي دا حکم یوازي په حکومتي ادارو پوري محصور نه پاتیږي او ډېر ژر به ټولو افغانانو ته د موبایلونو د ماتولو او تسلیمولو حکم صادر سي.
ځیني کسان د طالبانو دا وروستی حکم د هغوی د جهالت نخښه بولي او وایی چي نړیٔ کوم ځای ته ورسېدله او طالبان په څه لګیا دي. خو خبره دومره ساده نه ده. طالبان ډېر هوښیار دي. هغوی ښایی په هیواد کي نور زیات جنایات په نظر کي ولري ځکه نو تر هرڅه مخکي غواړي چي د موبایلونو او رسنیو د بندولو په وسیله له نوري نړیٔ سره د افغانستان ارتباط وشلوي او په اصطلاح بلایک اوټ جوړ کړي. د طالبانو وحشت انتها نه لري. قدرت ته د رسېدلو له ورځي څخه يې تر نن پوري هره ورځ د وحشت پر لور یو نوی ګام اوچت کړی دی اودا ګامونه به تر هغه وخته پوري دوام ولري چي تر څو يې د ټول هیواد څخه د ځان مرګو کارخانه جوړه کړې نه وي.
زه د طالبانو د وحشي اداری د قهري سقوط طرفدار نه یم. قهري سقوط ډېر زیات ملکي تلفات او تباهی راولي. له هغوی سره باید د هرات د خلکو په څېر اولسي مقاومت وسي. کله چي اولس ورته را پورته سي نو د اولس سره د مقاومت توان طالبان څه چي د هغوی باداران او کرنیلان هم نه لري. د هرات زړه ور او پر ناموس باندي مین خلک باید د ټول هیواد سرمشق سي. یوازي د هرات د زړه ورو خلکو د مقاومت په ستایلو خبره پای ته نه رسیږي. افغانان باید د هرات باناموسه اولسونه یوازي پرې نه ږدي. کنه نو هغه حالت چي نن پر هرات دی سبا هر ولایت او ټول افغانستان ته ګوري. هرات په افغانستان کي لومړنی ولایت وو چي زړه ورو بچیانو يې د حفیظ الله امین د استبداد په مقابل کي د حوت د څلېرویشتمي پاڅون وکړ او دا دی یو ځل بیا يې د افغانستان په تاریخ کي خپل نوم په زرینو کرښو ثبت کړ او په دې وسیله يې د افغانستان ټول اولسونه پوروړي کړل. که د طالبانو په مقابل کي هیڅ ډول اولسي عکس العمل ښکاره نه سي نو هغوی به ډېر ژر له افغانستان څخه باغ وحش جوړ کړي. یوازي د شعرونو اومضامینو په لیکلو نه کیږي. که غواړی خپل هیواد له دایمي بدبختی او بدمرغی څخه وژغوری نو د خپلو هراتي ورونو او خویندو لاره تعقیب کړی.



[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف](په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د جهانی صاحب آرشیف)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ